مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني
۲۰۲۰/۱۰/۱۳

شاه شجاع، امیر دوست محمد خان او برتانیه

ځلورم فصل

دوځلويښتمه برخه

د غزني محاصره او د قوې تسليمېدل:

کله چې جنرال کين، د غزني د قلا د فتح کولو څخه وروسته، د کابل پر لور حرکت وکړ نو نسبتاً وړه او کمزوري قوه يې هلته پرېښودله او دې ته يې فکر ونه کړ چې دا يوازې د غزني قلا او خلک نه ول چې د انګرېزانو په مقابل کې يې مقاومت وکړ بلکه د شاوخوا قبايلو په زرهاوو وسله والو خلکو په جګړو او مقاومت لاس پورې کړی وو. نو بايد چې غزنی تر بل هر ځای زيات تقويه سوی او غم يې خوړل سوی وای؛ او که يې ډېره قوه اچولای نه سوای او لوی پوځي مرکز يې په وس کې نه وو نو بايد چې اصلاً يې په غزني کې پوځي مرکز جوړ کړی نه وای.

د ۱۸۴۱ کال د نومبر پر دوهمه، په کابل کې د الکيزانډربرنس له وژل کېدلو سره، پاڅون پيل سو. ډېر ژر يې لمن ټول هيواد ته پراخه سوه او خبرونه يې تر هند، ايران او مرکزي اسيا پورې ورسېدل. غزنی، چې له کابل سره ډېر نيژدې پروت وو، طبعاً له دې اور څخه خلاصېدلای نه سوای.

د نومبر په مياشت کې کندهار آرام وو او پوځي مقاماتو د کندهار د پاڅون څو تنه دراني مشران ضابط کرافورډ ته سپارلي وه چې کابل ته يې ورسوي. هغه ته يې هدايت ورکړی وو چې که بنديانو د تښتېدلو هڅه وکړه نو دی دي هغه ووژني. پر کرافورډ باندې غزني ته نيژدې غلجيو حمله وکړه. ډېر سرې او آسونه يې ووژل سول؛ بنديان پر خپله لاره ولاړل او يا به هغه هم تلف سوي وي او کرافورډ ايله ځان د غزني قلا ته ورساوه. کرافورډ پر غزني باندې د غازيانو د حملو، د قوې د محاصرې او د انګرېزانو د قوې د تسليمېدلو په باره کې ټول ورځني ياداشتونه ليکلي دي. ښه به دا وي چې نور نکل د هغه له خپلي خولې واورو.

« زه له کندهار څخه، تېر کال، د اکتوبر پر دېرشمه روان سوم؛ درې تنه بنديان او اووه تنه يرغمل راسره وه، چې بايد کابل ته مې رسولي وای. زما د خپلي ټولی پوځيان راسره ملګري وه او يو قومي مشر ګدوخان راسره ملګری وو چې له هغه سره ځلويښت سپاره ورسره وه. موږ د نومبر پر اوومه اوها ته ورسېدو. موږ ډېر چټک خو په ډېره ارامي کې سفر وکړ او دا انديښنه چنداني نه وه راسره چې په لاره کې به حمله را باندې وسي. تاسي تصور کولای سی چې زه به څونه وارخطا سوی او حيران سوی يم چې ګدوخان مې خيمې ته راغی او د هغې سيمې يو اوسېدونکی ورسره وو چې ويل يې عرض بيګي دی. هغه ماته د کابل د خرابو حالاتو په باره کې رپوټ راکړ، چې د دې مياشتي پر دوهمه پيښ سوي وه. ما چې وروسته پوښتنه وکړه؛ د هغه خبري ريشتيا وې خو يو څه يې وربانديو زياتي کړي هم وې. ده موږ ته وويل چې بيرته شاته ولاړ سو او ځانونه قلات ته ورسوو ځکه چې د غزني شاوخوا دوو زرو تنو نيولې ده او حتماً وژل کېږو. ما د يوه صاحب منصب په حيث، شاته تګ، هغه هم د يوه سړي له خولې د کيسي په اساس، په هيڅ توګه مناسب نه باله. او که چيري د دې سړي کيسه ريشتيا هم وای نو قلات زموږ څخه نيوي ميله ليري او غزني څلور پنځوس ميله فاصله درلوده. موږ قلات ته په دوو ورځو کې رسېدلای نه سوای او غزني ته په يوه ورځ کې رسېدلای سوای. له بلي خوا تر قلات پوري لاره ټوله د غلجيو په منځ کې تېرېدله او هر ان د دښمن لاسته د لوېدلو او وژل کېدلو خطر موجود وو. وروسته زه خبر سوم چې هغه سړی عرض بيګي نه وو بلکه د سيمي له غلجيو څخه وو او غوښتل يې چې موږ په دام کې واچوي. په هغه صورت کې به ټول وژل سوي وای او دونه څوک به پاته سوی نه وای چې زموږ کيسه يې د چا تر غوږه رسولې وای. له ښه ډېر فکر کولو څخه وروسته، د شپې پر اته بجې پر آس سپورم سوم او د غزني پر لور مې حرکت وکړ. ټوله شپه مو مزل وکړ او سهار وختي، د غزني په ديارلس ميلي کې ناني ته ورسېدو. مګر سمدستي راته معلومه سوه چې شاوخوا خلک ټول يو څه ته منتظر دي. په يوه ګړي کې زموږ په باره کې له يوې قلا څخه تر بلي پوري اطلاع ورسېده او خلک زموږ پر اړخونو او شاته پيدا سول او ډزي پيل سوې. ډېر زړه ور سپاره ول او شاوخوا لکه د مچيو سېل رابانديې را وګرځېدل او له هري خوا يې ډزي کولې. د دونه زياتو دښمنانو په مقابل کې موږ تقريباً بېچاره سولو. دوه ځله مو پر دښمن باندي حمله وکړه او څو تنه مو ووژل. هغوی به د نيژدې قلاګانو له دېوالونو سره نيهام سول او پر موږ به يې خندل. موږ

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

لویه لاره پرېښودله او د دښت لاره مو واخیستله خو سپاره راپسي را رسېدل او بده خو دا وه چې هغه یابو ګان چې بندیان وربانديي سپاره وه ستړي سول او نور تللای نه سوای. ما پر دوو اسونو باندي دوه دوه تنه سپاره کړل او ځغاستي ته مي دوام ورکړ. یوه سپاره یو بندي په توره وواهه او مړ یې کړ او هغه نور دوه بندیان په یوه ارهډ کي ولوېدل. آس پر سربېره وو او پښې یې د آس تر نس لاندي په زولنو کي بندي وې. ما دوی خلاصولای نه سوای او هورې مي پرېښودل. ما دوې لاري درلودلې یا مي باید، د راکړه سوي هدایت سره سم، ویشتلي او وژلي وای او یا مي باید هلته پرې ایښي وای. د وظیفې تقاضا خو دا وه چې باید وژلي مي وای؛ مګر هغوی د دې حالت مسوول نه ول او زموږ دښمنانو یو بندي هم وژلی وو او ښایی دوی یې هم وژلي وای. زه باید دا خبره زیاته کړم چې له دې پیښو څخه وروسته تحقیقاتي هیات هم زه پر حقه وبللم. د نومبر پر اتمه د سهار د لسو بجو په شاوخوا کي غزني ته ورسېدم. ټول سامان او بندیان مي له لاسه ورکړي وه. پنځه لس تنه عسکر او شل آسونه راڅخه وژل سوي او څو تنه زخمیان مي قلا ته ورسول. هره ورځ تر بلي بد خبرونه راته را رسېدل. په کابل کي زموږ د مشرانو اشتباهاتو او بې عقلیو نه یوازي دوی تباه کړل بلکه غزني یې هم فلج کړ. تاسي تصور کولای سی؟ چې د غزني په قلا کي ضروري ترمیم کاری نه وې سوي او د غزني د قطعې مسوول کرنل تامس اجازه نه درلوده چې په قلا کي ضروري مواد ذخیره کړي. کرنل تامس ایله اوس د قلا په ترمیمولو لګیا سو او چې د دښمن قوتونه د قلا دېوالونو ته را ورسېدل نو پوه سول چې محاصرې ته هیڅ تیاری نه لرو. دا یوازي دښمنان نه وه چې موږ جګړه ورسره کوله؛ د ژمي سوړ موسم تیار پیل سوی وو او هوا داسي سړه وه لکه سړی چې په کاناډا کی اوسیږي. دښمن او واوري په یوه سلا مخونه ښکاره کړل. د نومبر پر شلمه، ښار دښمن محاصره کړی او مځکه واوري پوښلې وه. مګر په یوه هفته کي دښمنان د ښار له شاوخوا څخه لیري سول ځکه چې داسي رپوټ ورته رسېدلی وو چې ډګروال میکلارن زموږ د نجات لپاره را روان سوی دی. مګر د ډسمبر پر اوومه دښمنان په ښه زیات شمېر را ورسېدل او موږ یې شاوخوا محاصره کړو. د ښار خلکو د شپې په دېوال کي یو سوری جوړ کړی وو او خپل وطنوال یې ښار ته بللي وه. د ډسمبر پر شپاړسمه، په زرګونو کسان ښارته ننوتل. موږ کری شپه او سبا ورځ جنګ ورسره وکړ مګر بالاخره یې مجبور کړو چې قلا ته ننوزو. څو ورځي وروسته هوا دونه سړه سوه چې تر منفي څوارلس پوري ورسېده او په دې هوا کي به هندوستاني عسکرو څرنګه ګوزاره کړې وای. له یوې خوا هوا سړه وه او له بلي خوا محاصره وه. عسکر مو د یخنی له لاسه ناروغ ول او روغتون به له ناروغانو ډک وو. هر عسکر چې به سر د قلا تر دېوال ور پورته کړ وبه ویشتل سو. په ورځ کي درې څلور تنه وژل کېدل. د جنوري تر پنځه لسمي پوري وضع په دغه ډول وه او په هغه ورځ یو ډول متارکه ټینګه سوه او موږ باید د شمس الدین خان راتګ ته معطل سوي وای او د هغه له را رسېدلو سره له قلا څخه وتلي وای. ډګرمن تامس هغوی د مارچ د میاشتي تر پیل پوري، په یوه او بله پلمه، وځنډول؛ مګر تر هغه وروسته نه شمس الدین خان صبر کولای سو او نه زموږ د ژوندي پاته کېدلو لپاره چنداني مواد درلودل . د اوبو چښلو لپاره مو له واوري څخه ګټه اخیستله مګر هغه هم ویلی سوې وه او نور نو له سختي تندي سره مخامخ وو. بله هیڅ لاره پاته نه سوه او د دښمن سره مو، په دې هیله چې ګوندي ژوندي به مو پرېږدي، سوله وکړه. د مارچ پر شپږمه له قلا څخه د هغي جوړي په اساس را ووتلو چې ټولو مشرانو لاسلیک کړې او سوګند یې کړی وو چې موږ به تر پېښور پوري رسوي. زموږ سره به وسلې، سامانونه، بیرغونه او د سړي پر سر پنځوس مرمۍ راسره وي او دوی ته به تسلیمیږو. موږ یې، قلا ته نیژدې، په یوه وداني کي واچولو او په غرونو کي د واوري ویلېدلو او د انتقال د وسایلو برابرېدلو ته یې منتظر کړو. موږ ایله نوي کورته رسېدلي وو چې غازیانو حمله راباندي پیل کړه او زه پوه سوم چې دوی له کافرانو سره سوګندونه څومره رعایت کوي. موږ له یوې خوني څخه بلي ته تللو او خونو پرله پسې اور اخیستی او بالاخره تر نیمي شپې پوري ایله نیم کور روغ پاته سو. هم وږي تږي وو؛ هم مو مرمۍ پر ختمېدلو وې او هم کور ټول له مړو او زخمیانو ډک وو. موږ یو دېوال سوری کړ او ځانونه مو د ډګرمن پالمر کورته ورسول. په سبا سهار غازیانو زموږ د ملګرو پر یوه بل کور باندي یرغل وکړ. لمسدن، د هغه مېرمن، دېرش تنه هندي عسکر او د دوی نوکران یې ټول ووژل. افسران، ښځي، ماشومان، هندي عسکر او نوکران ټول په دوو کورونو ننوتلو. له هري خوا مرمۍ اورېدلې او زه حیران وم چې مرمۍ پر دېوالونو لګیږي او چنداني تلفات نه رسوي. خپل ډېر ملګري صاحب منصبان مي ولیدل چې پر څلورو به د خوني څخه ووتل او په ختو کي به یې کومه ټوټه یخی پیدا کړ او تنده به یې په ماته کړه. په سبا سهار زموږ پر کورونو باندي په زرهاوو، زموږ وینو ته تږي، غازیان را ګرځېدلي وه او موږ ټولو د یوې لویې حملې او حتمي مرګ انتظار کاوه. خو شمس الدین خان لکه چې مشرانو ته قناعت ورکړی وو او موږ یې له مرګه وژغورلو. د شمس الدین خان او نورو مشرانو یو شرط دا وو چې موږ خپل ځانونه دوی ته وسپارو او هندي عسکر د غازیانو په لاس ورکړو. دا داسي شرط وو چې په هیڅ توګه د منلو نه وو. په دې وخت کي ځینو هندوستاني عسکرو سلا سره کړې وه چې د شپې به، په پټه له کور څخه وزي، او ځانونه به پېښور ته رسوي. موږ خبر سولو او زاری مو ورته وکړې چې دا د حتمي مرګ لاره ده خو دوی زموږ خبره ونه منله او یوه شپه وروسته یې زموږ په پټه حرکت کړی وو. وروسته خبر سولو چې غازیانو ټول وژلي ول. موږ لس تنه افسران یې په یوه کوټه کي، چې ایله موږ پکښي ځایېدلو، واچولو. لږ ي ورځي وروسته ټولو شیږي وکړې. د اپرېل پر اوومه خبر سولو چې شاه شجاع وژل سوی دی او له دغي ورځي څخه زموږ سره نور هم ډېر سخت سلوک کېدی. حتی د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

وړې کوټې کړکۍ يې هم راته بنده کړه او د تازه هوا له اخيستلو څخه يې محروم کړو. د مياشتي له يوويشتمي څخه شکنجې پيل سوې او موږ ته يې ويل چې تر څو پوري هغه څلور لکه روپۍ چې موږ په قلا کي پټه کړي دي ور ونه ښيو موږ ته به هره ورځ شکنجې راکوي. بالاخره يې موږ ته وويل چې که پيسې ور ونه ښيو نو ټول به په نوبت په توپ کي والوزل سو. د اپرېل د مياشتي په پای کي زموږ محافظين بدل سول او زموږ سره ډېر نرم سلوک پيل سو. موږ پوه سولو چې زموږ پوځونه لکه چې را رسېدونکي دي. زموږ ډوډۍ بهتره سوه او په څو ورځو کي مو روغتيايي حالت هم ښه سو. زموږ محافظينو به راته ويل چې که چيري ستاسي پوځونه را ورسيږي نو د پخوا په شان به ټول قتل کړي.

د اګسټ پر نولسمه يې موږ ته اطلاع راکړه چې بايد سمدستي د کابل پر لور حرکت وکړو. په کجاوو کي يې پر اوښانو سپاره کړو. موږ په دريو ورځو کي کابل ته ورسېدو. په لاره کي له کومي پيښي سره مخامخ نه سولو مګر چې کابل ته ورسېدلو نو خلکو ډېر زيات ښکنځل راته وکړل. له نېکه مرغه چې موږ کابل ته ماښام ورسېدلو او په لارو کوڅو کي ډېر خلک نه ول کنه نو يوازي په ښکنځلو به چا نه وای خوشي کړي. موږ يې، سيده بالاحصار ته ، د محمداکبر خوني ته بوتلو. هغه په ډېره مهرباني زموږ هرکلی وکړ. ما خپل ځانته هيڅ قناعت نه سوای ورکولای چې دې ښکلي، خوش طبيعته او مهذب سړي دي، چې زموږ د لاري د سترتيا پوښتني يې وکړې او هره خبره به يې په خندا کوله مکناټن وژلی وي او زموږ د عسکرو په قتل عام کي دي يې برخه اخيستې وي. ده موږ ته وويل چې ډېر ناوخته کابل ته راغلو ځکه چې ده له شمس الدين خان څخه ډېر مخکي کابل ته زموږ د لېږل کېدلو غوښتنه کړې وه مګر هغه د ده امر ته اعتنا نه ده کړې. ده موږ ته وويل چې اوس نور غم مه کوی. زموږ پالنه به دی پخپله کوي او زموږ سره به د صاحب منصبانو په حيث سلوک کيږي. تر دې خوږو خبرو وروسته يې د ماښامنۍ ډوډۍ د راوړل کېدلو امر وکړ او په ټروپ او پوټينجر پسي يې احوال واستاوه. کله چې دوی را ورسېدل نو موږ، نور مشران او محمداکبر ډوډۍ ته کښېنستلو چې ما په دې څو مياشتو داسي ډوډۍ نه وه ليدلې. وزير پر ډوډۍ باندي د مختلفو شيانو په باره کي خبري او ټوکي وکړې او له ډوډۍ وروسته يې موږ ته وويل چې تاسي به د ټروپ او پوټينجر سره ولاړ سی ځکه زه پوهيږم چې تاسی به غواړی د ډېرو شيانو په باره کي خصوصي خبري سره وکړی. په سبا سهار يې موږ ته سبا ناری راووړ او څو آسونه يې راته راوستل او راته وې ويل چې موږ به له کابل څخه څو ميله ليري له نورو انګرېزي بنديانو سره يو ځای سو. ضمناً يې راته وويل چې د ضرورت وړ شيانو يو ليست ورته وسپارو. موږ خپل وطنوال وليدل. هغو په داسي ځای کي ژوند کاوه چې موږ ته لکه کوچنی جنت داسي ښکارېدی. دوی ښې لويی خوني درلودلې، نوکران ورته ولاړوه، هر يوه ښه ډېر سامان درلودی او يو ښايسته باغ يې درلودی چې ښه قدم پکښې وهل کېدلای سوای. خو زما له بدي طالع چې دې ژوند ډېر دوام ونه کړ او څلور پنځه ورځي وروسته يې باميان ته واستولو. کله چې باميان ته روان سولو نو د محمداکبر له مېلمه پالني څخه بې برخي سولو او زموږ سره بيا سخت سلوک شروع سو. زه پوهيږم چې زموږ ډېرو ملګرو به د بنديانو په باره کي ليکني کړې وي نو زه به خپله ليکنه دلته پای ته ورسوم. وېريږم چې تکرار کيسې ونه ليکم.» (آيرې ص ص ۴۰۶-۴۲۰)

که څه هم چې ډګرمن پالمر له غزني څخه، د مارچ پرلومړۍ نېټه، د جلال آباد د قواوو قوماندان ته، د يوه قاصد په لاس، ليک استولی او په هغه کي يې ليکلي دي چې ما د مېجر پوټينجر او جنرال الفينسټون له هدايت سره سم کار کړی دی. هغوی راته ليکلي وه چې هر کله د امين الله خان زوی روح الله خان در ورسيږي نو تاسي به قلا او ښار تخليه کړی او د کابل پر لور به حرکت وکړی. له بلې خوا هم د دښمنانو له خوا محاصره وو او هم مو په ټول پوځي مرکز کي د چښلو اوبه نه درلودلې او دغه راز د غزني نوی ګورنر او سياسي استازی اميرشمس الدين خان هم را ورسېدی او ماته سرويليم مکناټن هدايت راکړی وو چې غزني ته د ده له رسېدلو سره سمدستي د کابل پر لور حرکت وکړم. (پيپرز مکتوب ۲۱۶)

مګر ګورنرجنرال لارډ ايلنبرا د پوټينجر، مکناټن، جنرال الفينسټون او ډګرمن پالمر لپاره د نظامي محکمې غوښتنه وکړه. مکتوب ۲۱۷

البته پوټينجر او ډګرمن پالمر دواړه په محکمه کي تبريه سول. د غزني له ګارنيزون څخه يوازي لس تنه انګرېز صاحب منصبان کابل ته ژوندي ورسېدل او نور اکثر ووژل سول. انګرېزي منابعو، په غزني کي، د باقي پاته کسانو په باب، چې اکثريت هندوان، ګورکه او يو څه مسلمانان ول، چنداني څه نه دي ليکلي. د دې ډېر قوي احتمال موجود دی چې ډګرمن پالمر به، د خپلو انګرېزي افسرانو د ژغورلو لپاره، د غازيانو د لومړۍ غوښتني سره سم، هندي عسکر ټول تسليم کړي وي. د سيتارام او موتي رام له ليکنو څخه په ښرګنده ښکاري چې په سل ګونو هندي عسکر، له ژوندي نيول کېدلو څخه وروسته، د غلامانو په بازار کي خرڅ سول؛ او خلکو په کورونو او کروندو کي کار ورڅخه واخيست. د جان کانلي په ياداشتونو کي هغو په سل ګونو هندي عسکرو ته اشاره سوې ده چې د کابل په بازارونو کي يې ګدايي کوله او نواب زمان خان او نواب جبار خان تقريباً هر ماښام ډوډۍ ورکول.

د تعجب خبره دا ده چې کله جنرال ناټ له کندهاره څخه کابل ته په لاره کي غزني ته ورسېدی نو ويې ليدل چې ځيني هندوان او د دوی هندي عسکر په قلا کي اوسېدل او دوی ته يې له ليري د برتانيې بيرغونه ښورول او د شمس الدين خان په توپونو يې دوی ته عسکري سلامي وکړه. (کي دوهم جلد ص ۶۰۴)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د دې عسکرو شمېر ښودل سوی نه دی خو دا چې د شمس الدين خان توپ چې قوه ورسره وه نو يقيناً چې له ځينو ځخه يې په پوځ کې کار اخيستل کېدی؛ او ښايي ځيني او يا ښايي اکثريت به يې په کابل او اطرافو کې د نورو هندي عسکرو په سرنوشت اخته سوي وي.
د جنرال ناټ په پوځ کې موجودو انجنيرانو چې کله د غزني قشله وکتله نو ويې ليدل چې دا قلا اوس هم دونه ټينګه او مجهزه وه چې د شمس الدين خان او د هغه د غازيانو لپاره يې فتح کول چنداني ممکن نه وه او تر ډېره وخته يې مقاومت کولای سوای او په قشله کې دننه يو ځاه وو چې اوس يې هم اوبه لرلې. د ځاه د اوبو سطح له سيند ځخه کښته وه او د وچېدلو احتمال يې موجود نه وو. دوی حيران سول چې پالمر دا قلا څرنګه تسليم کړې او ځان او ملګري يې شمس الدين خان ته سپارلي او د هغه په غضب يې اخته کړي ول. (هغه کتاب ص ص ۶۰۴-۶۰۵)
له دې ځخه ښکاري چې ډګرمن پالمر له وچه بې زړه توبه غازيانو ته ځان تسليم کړی دی. ځکه ده هر وخت، په خپله دفاع کې، ويلي دي چې په قشله کې يې يو ځاڅکی اوبه نه درلودلي او ټول د تندي د مرګ له تهديد سره مخامخ ول، او له تسلمېدلو پرته بله هيڅ لاره ورته پاته نه وه.
د جنرال ناټ پوځ له دې ځخه وروسته د ښار او قلا د تباه کولو کار پيل کړ. توپ چې قواوو يې د شمس الدين خان توپونه وچاودل؛ انجنيرانو په قلا او د ښار په بېلو برخو کې ماينونه ښخ کړل او ويې چاودل. وروسته يې قلا او ښار ته اور واچاوه او د لرګيو ځخه جوړو سوبو ودانيو ډېر ژر اور واخيست او کړی شپه يې اسمان روښانه کړی وو.
(هغه کتاب هغه مخ)
نوربيا

کندهار او شاوخوا سيمه:

عبدالباري جهاني

شاه شجاع، امير دوست محمد خان او برتانيه, يوځلويښتمه برخه

يادونه: د ښاغلی جهانی د ليکنو آرشيف، تاسو کولای شی د دی ليکنې تولې برخې دلته ولولې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ